# په پښتو کښې د ترجمه شوي ناول توبة النصوح يو جاج

# A Review of the Translation of the Pashto Translated Novel Taubat-Un-Nasukh

Muhammad Daud Khan *
Dr.Sher Zaman Seemab **

ABSTRACT:

Novel is considered one of the most important genres of fictional literature, and was first seen in English literature. After gaining popularity in Europe, it was adapted by other languages around the world.InEastern languages, it came to Urdu from English and in Pashto literature through translation from Urdu.

The first Pashto Novel was a translation of Urdu Novel "Naqsh-e-Nageen" translatedin 1876 and published in 1957. The next novel translated from Urdu into Pashto was "Taubat-un-Nasukh", written by Deputy Nazir Ahmad and published in 1874. It was a reformed novel and its aim was to reform and train the children. Mian Muhammad YousafKakakhel translated it with the same title and was published in 1904 (at New Press Rawalpindi).

It is an important novel of Pashto literature as it is considered as the first Published novel of Pashto literature and the tradition of novel started with it in Pashto literature.In this article I have pointed out the purpose motives and aims behind this translation and also highlighted its importance and qualities.

Key Words: Novel, Translation,"Taubat-un-Nasukh",Idiom, Phrase

په افسانوي ادب کښې ناول يو اهم توکے ګڼلے شي۔ ناول د انګرېزي ادب پېداوار دے ۔په يورپ کښې چې کله ناول ښۀ وده اوکړه او په اولس کښې ښه مشهور شو نو بيا د نړۍ نورو ژبو هم دغه صنف خپل کړو۔ په مشرقي ژبو کښې ناول د انګرېزي ادب نه اردو ادب ته او بيا د ترجمې په لاره د اردو ادب نه پښتو ادب ته راغلو د اردو ژبې ړومبے ناول مراة العروس دے چې ډپټي نذير احمد په ۱۸۶۹ء کښې ليکلے دے ۔مراة العروس په دې وجه اهم دے چې دې ناول سره په اردو ادب کښې د ناول نګارۍ ابتدا اوشوه ۔په پښتو ادب کښې ددې ناول ترجمه د نقش نګين په نامه ميا حسيب ګل کاکاخېل په کال ۱۸۷۶ء / ۱۲۹۳هـ

* Ph.D Scholar Pashto Academy UOP.
* Assistant Professor, Pashto Academy UOP.

کښې اوکړه ـ د ناول دې ترجمې سره په پښتو ادب کښې هم ناول په وجود کښې راغلو ـ خو د بده مرغه د ''نقش نگین'' دغه ترجمه ډېره موده ناچاپ پرته وه ـ د میا امیرزاده کاکاخېل او د هغهٔ زوے میا ثناء الدین کاکاخېل په کوششونو سره دا ترجمه بیا موندې شوه ـ میا ثناء الدین د نقش نگین د ترجمې کتابت اوکړو او په کال ۱۹۵۷ء کښې په انوارالاشاعت کابلی دروازه پېښور کښې د چاپ په کالو ښائسته کړه ـ دغه شان د چاپ په لحاظ سره د نقش نگین ترجمه د توبة النصوح نه روستو راغله ـ داردو ترجمې په پښتو کښې چې کوم دوېم ناول ترجمه شوے دے هغه توبة النصوح دے ـ خو د چاپ په لحاظ سره دا ناول ړومبے دے ځکه چې دا په ۱۹۰۴ء کښې چاپ دے ـ

## د توبة النصوح ( ناول ) مختصر تعارف :-

توبة النصوح د اردو ادب نامتو لیکوال ډپټي نذیر احمد مشهور اصلاحي ناول دے ـ په ړومبي ځل دا ناول په ۱۸۷۴ء کښې چاپ شوے وۀ ـ په پښتو ادب کښې د توبة النصوح ناول ترجمه هم په دغه نامه میا محمد یوسف کاکاخېل کړې ده ـ دا ترجمه په کال ۳۱ جمادي الاول ۱۳۲۳ھ / ۱۹۰۴ء کښې په نیو پریس راولپنډۍ کښې چاپ شوې ده ـ توبة النصوح یو اصلاحي ناول دے او ددې ناول مرکزي موضوع او مقصد د اولاد تربیت دے ـ په دې ناول کښې د نصوح ، کلیم، نعیمه ، میرزا ظاهر دار بېگ او نورو کردارونو په ذریعه په مذهبي او اخلاقي تربیت زور ورکړے دے ـ د ټولنې په فضول او عبث رسمونو رواجونو باندې ئې رڼا اچولې ده ـ دغه شان د مذهب نه لرې والے ئې د خطرې باعث گڼلے دے ـ نصوح یو خوب وینې چې پکښې د مرگ ټول منظر نه تېر شي ـ ددغه خوب نه بېدار ېدل د هغه د ژوند ټوله نقشه بدله کړي ـ نصوح پخپله د مونځ او نورو عباداتو ښه پابند وي خو د هغه زوے کلیم ښخي د پلار په طریقه او نصیحت عمل نه کوي ـ کلیم چې د پلار نصیحت نه تنگ شي نو کور پرېږدي ـ د پلار او د زوے تر مېنځه دغه تنازعه د ناول قیصه مخ په وړاندې بوځي ـ

## د توبة النصوح ناول د پښتو ترجمې په شا محرکات:

دا یوه منلې شوې خبره ده چې داسې څۀ خاص فنپاره په وجود کښې راځي نو د هغې په شا څۀ خاص مقصدونه او محرکات وي ـ دلته دغه خاص مقصدونه او محرکات په گوته کوم چې اخر څۀ وجه وه او هغه کوم محرکات وو چې د اردو ادب توبة النصوح ناول په پښتو کښې ترجمه شو ـ

''توبة النصوع ناول چې کله په اردو کښې په ۱۸۷۴ء کښې چاپ شو نو سر

وليم ميور چې هغه وخت د شمال مغربي صوبې (موجوده يو پي انډيا) ګورنر وۀ ـ د حکومت له طرفه ئې ناول نګار ته په دې ناول ليکلو يو زر روپۍ انعام ورکړو[1] ـ ''

د حکومت له طرفه ددې ناول ډېر تعريف اوشو او د ناول نګار ئې ډېره ډاډګيرنه اوکړه بلکه دا چې ددې ناول ترجمې د هندوستان په نورو ژبو کښې هم اوشوې ـ په دې اړه افتخار احمد صديقي ليکي :

'' گذشته صدی کے ربع آخر میں ہندوستان کی مختلف زبانوں میں اس کے ترجمے ہوئے۔اس زمانے کے ڈائریکٹر تعلیمات صوبہ شمال و مغربی مسٹر ایم کیمسپین ایم اے نے انگریزی میں اس کا ترجمہ کیا جو 1886ء میں لندن میں شائع ہوا۔1886ء میں انہوں نے توبۃ النصوح کا ایک ایڈیشن انگریزی کے حواشی وفرہنگ کے ساتھ مرتب کر کے لندن میں چھپوایا۔[2] ''

ترجمه :- د تيرې شوې صدۍ په اخري کلونو کښې د هندوستان په مختلفو ژبو کښې ددې ترجمې اوشوې ـ په دغه زمانه کښې ډائريکټر تعليمات صوبه شمال مغربي مسټر ايم کيمسپين ايم اے په انګرېزۍ کښې ددې ترجمه اوکړه چې په ۱۸۸۶ء کښې په لندن کښې چاپ شوه ـ په ۱۸۸۶ء کښې هغه د توبة النصوح يو بل ايډيشن د انګرېزۍ سره د حواشي او فرهنګ مرتب کړو او په لندن کښې ئې چاپ کړو ـ

څنګه چې په پورتني اقتباس کښې هم ددې خبرې وضاحت اوشو چې د توبة النصوح ناول د هندوستان په مختلفو ژبو کښې ترجمې اوشوې ـ څرګنده خبره ده چې په دغه دور کښې د پښتو ليکوالو هم په دې صف کښې ځان شامل کړو او د توبة النصوح پښتو ترجمه باندې ئې قلم کېښودو ـ په پښتو ادب کښې ميا محمد يوسف کاکاخېل چې د سرو ډېرو د مياګانو د خاندان نه وۀ او د نعمان ميا خوريے وۀ[3] ـ ''

ميا محمد يوسف کاکاخېل د توبة النصوح ناول ترجمه په پښتو کښې اوکړه ـ د توبة النصوح ناول دا ترجمه په ۳۱ جمادي الاول ۱۳۲۳ھ / ۱۹۰۴ء کښې په نيو پرېس راولپنډي کښې د چاپ په کالو ښائسته شوه او دغه شان ميا محمد يوسف کاکاخېل د توبة النصوح ناول د ترجمو په لړۍ کښې پښتو ژبه هم شامله کړه ـ ډاکټر بي بي مريم د توبة النصوح ناول د ترجمې يوه وجه دا هم ښائي ـ

'' هر کله چې دغه ناول ډېر زيات اصلاحي وه او بيا ددغه ناول مزاج هم د

پښتني معاشرت سره سمون خوړلو نو میا صیب سمدستي ترجمه کړو[4]۔''

د محترمې ډاکټر بي بي مریم دا خبره په خپل ځای صحیح ده خو د توبة النصوح ناول د ترجمې په شا دې نه علاوه نور خاص مقصدونه او محرکات هم وو او هغه دا چې پښتو ژبه او ادب د ترجمو په ذریعه مالا مال او غني شي او کتابونه پکښې ډېر شي ځکه چې په دغه وخت کښې د پښتو د نثر په میدان کښې څۀ دومره کار لاړۀ وۀ شوے ۔ دلته به دا خبره د اهمیت وړ وي چې د پښتو ادب د کتابونو ذخیرې زیاتولو دپاره میا نعمان الدین د سر ډېرو مردان یو تحریک اوچلولو ۔ ددې نه ددۀ مقصد دا وۀ چې د پښتو ادب کتابونه زیات شي ۔ میا نعمان الدین احمد په دغه وخت کښې په پنجاب سول سروسز کښې د اي اے سي(EAC) په عهده کار کولو ۔ دۀ د لیکوالو ، شاعرانو او ادیبانو ډاډګیرنه اوکړه او دوي سره ئې هر قسم مالي تعاون ته غاړه کېښوده ۔ میا نعمان الدین احمد په باقاعده ډول د یو اشتهار په ذریعه د پښتو په کتاب لیکلو او ترجمه کولو باندې د انعام ورکولو اعلان کړے وۀ ۔ ددغه اعلان یو اشتهار د توبة النصوح ناول په اخره کښې هم چاپ دے ۔ ددغه اشتهار نمونه دلته رانقل کوم۔

**اشتهار :**

''د هر چا چې یو علم پخپله ژبه کښې وي ، هغه علم ډېر زر اسان حاصلولے شي ۔ ځکه د پښتنو د علمیت دپاره د هر علم ، فن بیان هم په پښتو کښې بیانول ضروري دي ۔ نو که چا د څۀ داسې قسم کتاب په پښتو ژبه کښې جوړ کړو ۔ زۀ به په قدر د کوشش د هغه او په اندازه د ضرورت او مناسبت د مضمون حسب حیثیت خپل انعام ورکړم او د کتاب په اشاعت کښې به ئې هم مدد اوکړو ۔ نعمان الدین احمد کاکاخېل[5]''

د میا نعمان الدین احمد کاکاخېل ددې اعلان او پښتو ژبې او ادب سره د مینې په نتیجه کښې د پښتو ادب یو شمېر کتابونه تخلیق او ترجمه شول چې ځینې پکښې په خاص توګه لکه مشیر الاخلاق د مولوي صاحب مشیر الدین کاکاخېل ، ظفر النساء د نعمان الدین کاکاخېل ، زینت النساء چې د میا نعمان الدین کور ودانې لیکلے دے ۔ او قصص یوسفي د میا محمد یوسف کاکاخېل ډېر مشهور دي ۔ د میا نعمان الدین احمد کاکاخېل ددې تحریک په نتیجه کښې د وړو ماشومانو د تعلیمي شوق زیاتولو دپاره ډېر داسې واړۀ واړۀ کتابونه هم اولیکلے شول ۔ د توبة النصوح ناول په پښتو کښې د ترجمه کولو یو بل مهم محرک دا هم دے چې دا یو اصلاحي ناول دے او په دغه دور کښې پښتنو ته د اصلاح او تعلیم

طرفته د راګرځولو ډېر زيات ضرورت وۀ ـ ځکه چې په دغه وخت کښې پښتنو د تعليم نه منډې وهلې او په خصوصي توګه انګرېزي تعليم خو ورته حاصلول بالکل ګناه ښکارېده ـ په دغه وخت کښې د تعليم په باره کښې به يوه خاص پروپېګنډه چلېده او هغه دا وه چې:

سبق د مدرسې وي
دپاره د پېسې وي
په جنت کښې به ئې ځاے نۀ وي
په دوزخ کښې به غوټې وي

دغه وخت پښتنو سره نه هنر وۀ او نه تعليم وۀ ـ په تجارت او کاروبار به هم نه رسېدل ـ هميشه به په تاوان کښې وو ـ هم دغه وجه وه چې په پښتنو کښې د شعور او اګاهئ پېدا کولو په خاطر د داسې قسمه ترجمو راوړو ضرورت هم محسوس شو ـ بله دا چې د ۱۸۵۷ء د جنګ ازادئ نه پس د پښتنو په سيمه کښې په خصوصي توګه عيسائي مشنري او مبلغين ډېر سرګرم وو ـ دغه خلقو د عيسائي مذهب خورونې دپاره يو جدا لټرېچر تخليق کولو ـ د داسې قسمه مخ نوي دپاره هم دا ترجمې په وجود کښې راغلې ـ

بله دا چې په پښتو کښې د توبة النصوح ناول د ترجمې يو سبب او محرک دا هم دے چې ميا محمد يوسف د ډپټي نذير احمد د علميت او شخصيت نه هم ډېر متاثره وۀ ـ هغه ئې په خپله ليدلے او اورېدلے وۀ ـ په دې حقله ميا محمد يوسف کاکاخېل ليکي:

"ددې کتاب اصلي مصنف به شايد چې په وخت د تصنيف د شپېتو کالو لر بر وۀ ـ ما پخپله د انجمن حمايت اسلام په سالانه جلسه کښې چې هغه وخت ما په لوے لاهور کښې سبق وئيلو په ۱۳۰۸ھ / ۱۸۹۰ء کښې مې ليدلے وۀ ـ په اسلام باندې ئې تقرير کولو[6] ـ"

ميا محمد يوسف کاکاخېل د توبة النصوح ناول پښتو ته د راوړو يو محرک دا بيانوي:

"تر ډېره دا کتاب سرکاري مدرسو کښې لوستے شو او هندوستانيانو ئې دومره قدرداني اوکړه چې څو څو ځله چاپ شو او په څو څو ژبو کښې ددې ترجمې اوشوې ـ ما هم دا ترجمه د پښتنو د فائدې دپاره اوکړه او پښتو زده کوونکو ته ترې هم ډېره لويه فائده رسېدے شي ـ ځکه چې هر قسم مذکور پکښې راغلے دے ـ تياره د پُندانې قصې ده[7] ـ"

دغه پورتني وجوهات او محرکات د توبة النصوح ناول د ترجمې په شا پراتۀ وو چې ميا محمد

يوسف کاکاخېل په پښتو کښې دا ترجمه اوکړه.

**د توبة النصوخ ناول په پښتو ترجمه يو نظر :**

د يوې ژبې نه بلې ژبې ته ترجمه راوړل که ګران کار نه دے نو اسان هم نه دے ځکه چې دا پوره مهارت ، پوهه او د مترجم په ذاتي خوبئ اډانه لري چې هغه په خپله موضوع ځومره عبور لري. د ترجمې په بابله دا خبره هم ضروري ده چې مترجم به په دواړو ژبو پوره پوره عبور لري. په دې اړه پروفېسر ډاکټر حنيف خليل ليکي :

''د ترجمې په وخت دا خو ضروري ده چې مترجم به په دواړو ژبو عبور لري. د کومې ژبې نه چې ترجمه کېږي په هغې هم او کومې ژبې ته چې ترجمه کېږي په هغې هم. خو په خصوصي حواله کومې ژبې ته چې ترجمه کېږي د هغې ژبې په مزاج پوهېدل ، په روزمره او محاوره ئې ګرفت لرل او د تهذيبي پس منظر نه ئې اګاهي ډېره ضروري ده چې دغسې متعلقه ژبې ته شوې ترجمه فطري ښکاره شي او ددغې ژبې لوستونکو ته د مفهوم په اخستلو او پوهېدلو کښې مشکل نه پېښېږي[8].''

د ترجمې دغه فني اصولو ته چې مونږ اوګورو نو بيا په ډېرو ترجمو کښې کمے په نظر راځي او د هغې يوه غټه وجه دا هم ده چې رومبے فن په وجود کښې راځي او کله چې فن په وجود کښې راشي نو د هغې نه پس ورله اصول ټاکلے شي. د ترجمو ډېرو نقادانو هم د شوو ترجمو نه پس بيا ددغه ترجمو په رڼا کښې د ترجمو معيار او اصول ښودلي دي.

د پښتو په کلاسيکي دوره کښې هم يو شمېر ترجمې شوي دي. دغه ترجمې يقيناً چې د معيار دي او د پښتو ادب پرې نه صرف پنګه زياته شوې ده بلکې د اهميت وړ هم دي. د ترجمو په دغه لړۍ کښې د توبة النصوخ ناول پښتو ترجمه هم ده. د توبة النصوخ دغه ترجمه د ډپټي نذير احمد د اردو ناول نه شوې ده. ډپټي نذير احمد يو عالم ، فاضل شخصيت وُه. هغه په عربۍ ، فارسۍ ، انګرېزۍ او په اردو ژبه باندې ډېر عبور لرلو. هغه په خپلو ليکونو کښې د دهلي پخوانۍ روزمره او محاوره ډېره په استکارۍ سره استعمال کړې ده. يقيناً چې د داسې ناول ترجمه کول د هر چا د وس کار نۀ دے. دغه ګران او مشکل کار ميا محمد يوسف کاکاخېل سرته رسولے دے. هغه په ډېرې خوارۍ ، محنت او علمي انداز سره د توبة النصوخ ناول په پښتو کښې ترجمه کړې ده. د ناول روزمره او محاورې ته ئې خپل پښتني رنګ ورکړے دے. دغه شان ئې په ناول کښې د عربۍ ، فارسۍ جملې په ډېره اسانه او

روانه پښتو کښې راوړي دي. د اشعارو ترجمه ئې هم په اسانه او منظوم انداز سره کړې ده. د اشعارو داسې روانه ترجمه ئې کړې ده چې د شعر مفهوم او مطلب ترې چرته هم نه دے مات شوے. دغه شان د مبهمو الفاظو او تراکیبو وضاحتونه ئې ورسره ورسره په حاشیه کښې کړي دي. دغه ترجمه په یوسفزئ لهجه کښې شوې ده ځکه چې دا د مترجم خپله لهجه ده. مونږ چې دغه ترجمې ته اوګورو نو په دغه ترجمه کښې دا ځانګړتیا په نظر راځي.

**د توبة النصوح ناول د ترجمې ځانګړتیا:**

1. د توبة النصوح ناول ټول په دولسو بابونو (فصلونو) کښې وېشلے شوے دے. د ناول مترجم هم دغه طریقه برقرار ساتلې ده او په دې کښې ئې څۀ تصرف نه دے کړے.
2. د ناول چې کوم تهیم (Theme) او موضوع ده نو هغه مترجم هم هغسې راوړې ده او د اصلي ناول نګار تهیم او موضوع ئې هم په هغه انداز سره ښودلې او ترجمې کړې ده.

د ناول په شروع کښې د "تعنن" تر عنوانه مترجم حمد و ثنا او د سید عنوان الدین کاکاخېل په بابله ئې مدحیه اشعار ورکړي دي. د توبة النصوح ناول په اصلي متن کښې دا نشته دے. دا مترجم د اضافې په طور راوړي دي. لکه د مثال په توګه:

حمـــد درود دے زړۀ پـــه خولـــۀ زمـــا روان
چـې بـې دې نـه د دنیـا دیـن کـار دے روان
غـاړه خلاصـه شـي د هـر مخلـوق هالـه چـې
ذکـــر فکـــر حمـــد درود کـــړي ملـــوان
پـس لـه حمـد درود پـه ډېـر تعظـیم تکـریم زۀ
پـه خـدمت کښـې د احمـد د دیـن عنـوان
یعنـــي ســـید عنـــوان الـــدین احمـــد
جـــاګیر دار صـــاحب بهـــادر شـــمس الاعـــوان
چـــې قبلـــه کعبـــه زمـــا دے د دارینـــو
د پـــردو خپلـــو پـــر حـــق دے جالـــه وان
پـــه کروړونـــو تواضـــع پېشـــکش کـــوم
دا تصـــنیف خپـــل هـــم ســـره ددې علـــوان[9]

دغه شان مترجم د کتاب لوستلو څۀ خاص هدایات ورکړي دي چې څنګه به یو لوستونکے ددې کتاب نه فائده پوره کوي. په دې هدایاتو کښې ئې د پښتو حروف سره د مثالونو او

وضاحتونو ورکړي دي ـ مترجم په دغه ترجمه کښې د اضافې په طور تمهيد د مترجم ، حمد ، نعت او دعا ، وجه د تصنيف ، د پښتو خواري په څۀ ده ؟ ، مناسبت د مضمون د کتاب پښتنو سره ، د پښتنو د تنزل او ترقۍ اسباب ، ښځو ته د علم ضرورت ، صلاح او فلاح د پښتنو او توبه د قام شامل کړي دي ـ دا عنوانات په اصل متن يعنې (Source Language) کښې نشته دے ـ د دغه ترجمې ژبه روانه او خوږه ده ـ

- مترجم د ناول د ټولو کردارونو نومونه هم هغه شان راوړي دي کوم چې د ناول په اصلي متن کښې دي ـ
- د ناول مترجم ميا محمد يوسف کاکاخېل اصل ديباچه د مصنف هم ترجمه کړې ده ـ په دې کښې د نظم ترجمه په نظم کښې او د نثر ترجمه ئې په نثر کښې کړې ده ـ

د مثال په توګه ئې دغه نمونه :

**اصل متن**

"الٰہی خلعت ہفت پارچہ خواس خمسہ و عقل وروح سے سرفرازی دی ہے تو منصب ایمان داری بھی عطا کرکہ خطاب اشرف المخلوقات میری حالت کے مناسب ہو۔ خداوند اپنے حبیبؐ کا اُمتی بنانے سے امتیاز بخشا ہے تو تقرب عبادت بھی نصیب کرکہ الطاف کریمانہ شفاعت اور عواطف خسروانہ رحمت کی مجھ کو قابلیت ہو۔[10]"

ترجمه :- پاک الله : پنځه حواس ، عقل ، روح ، اووه خلعت چې در عطا کړه ـ نو په خپل کرم د ايماندارۍ په منصب مې هم اودروو چې د اشرف المخلوقات خطاب زما د حال سره مناسب شي ـ خاونده! د پاک حبيب په اُمت کښې دې داخل کړے يم نو د خپل عبادت او د سنت د متابعت توفيق هم را اوبخښې چې د عاقبت د رحمت موندلو قابليت راکښې پيدا شي[11] ـ"

دغه پورتني دواړه اقتباسات په غور سره د لوستلو نه پس دا واضحه کېږي چې مترجم دلته د اصل عبارت پېروي کړې ده ـ دغه ترجمه تحت اللفظ ده او د خپل ځانه په کښې مترجم څۀ تصرف نۀ دے کړے ـ

د توبة النصوح ناول په ترجمه کښې مترجم ځاے په ځاے د ځينو د عربۍ د جملو هم ترجمه کړې ده ـ دغه ترجمه د ناول په اصلي متن کښې نشته خو مترجم دلته راوړې ده ـ لکه د مثال په توګه : کله چې کليم په دولت اباد کښې يو مولوي صيب سره د هغۀ په کور کښې

ملاوېږي نو کليم احتراماً ورته تېټ شي او سلام اوکړي دغه مولوي صېب په دې موقع کليم ته په عربۍ کښې جواب ورکوي او وائي :

"وعليکم السلام ورحمة الله و برکاته ، من اين انت فى ارفالک احسن الله بمالک[12] "

ترجمه :- وعليکم السلام و رحمة الله و برکاته۔ ته ستړے مه شې ، خدائے دې په خېر لره۔ د کوم ځائے نه راغلې[13]۔"

کله چې کليم په دولت اباد کښې د صدر اعظم سره ملاقات کوي په دغه موقع د صدراعظم دا مکالمه او ددې ترجمه :

*" صدر اعظم : آپ کی سماعت صحیح لیکن اگرچہ جود صفت محمود ہے۔ مگر اعتدال شرط ہے۔ شامت اسراف سے غنٰی باقی نہ رہا۔ فرنگیوں نے حفظ ریاست کی نظر سے رئیس کو ممنوع التصرفات، مسلوب الاخیارات کرر کھا ہے۔[14]"*

مترجم ددغه جملو ترجمه څۀ په دې انداز سره کړې ده :

"صدر اعظم ، ستاسو اورېدنه رښتيا ده ، سخاوت بې شکه ډېر ښۀ صفت دے ۔ولې په يو اندازې ، د اسراف له تېسه ئې حکومت پاتې نه شو ۔ فېرنګيانو د رياست ساتنې دپاره د هغه نه اختيارات واخسته[15]۔"

ددغه جملو اسان مطلب دادے چې تا څۀ اورېدلي دي نو صحيح دي ځکه چې سخاوت يو غوره عمل دے۔ خو هر کله چې يوه خوبي د حد نه زياته شي نو بيا درد سر شي۔ ځکه خو په هر کار کښې اعتدال راوستل پکار دي ۔د فضول خرچۍ له امله ئې دولت پاتې نه شو ځکه خو انګرېزانو د رياست محفوظ کولو او بچ کولو په خاطر د رياست والي اوويستو او اختيارات ئې ترې واخستل۔

د ناول توبة النصوخ نه يوه بله جمله او د هغې ترجمه :

*" کلیم بھی سن سن کر دولت اباد کا ایسا مشتاق تھا، جیسے زاہد مرتاض جنت کا۔[16]"*

ترجمه : کليم هم تش په اورېدو د دولت اباد داسې مشتاق وۀ لکه زاهد د مرتاض جنت[17]۔"

د زاهد معنٰی عبادت ګذار او د مرتاض معنٰی رياضت کولو والا يا د تصوف په لاره کښې مشقت او سختۍ برداشت کولو والا۔ دلته ددې جملې په اسانه او عام فهم ترجمه داسې پکار وه چې لکه څنګه چې يو عبادت ګذار د جنت ارزو او خواهش لري هم دغه مثال د کليم د دولت اباد د ليدو هم وۀ۔

په توبة النصوح ناول کښې دپټي نذير احمد ډېره په زړۀ پورې مکالمه نګاري کړې ده هغه په خپلو مکالمو کښې د دهلي روزمره او محاوره په ډېره غوره طريقه راوړې ده ـ دلته مترجم د د هلي دغه روزمره او محاورې ته پښتني رنګ ورکړے دے ـ مترجم په ډېرو ځايونو کښې د خپل کلتور او پښتني ټولنې ننداره وړاندې کړې ده ـ مترجم خپل کلتوري رنګ پېدا کولو دپاره په داسې موقعو ازاده ترجمه کړې ده لکه د مثال په توګه: کله چې په شپږم باب کښې د نصوح او منځني زوے عليم تر مېنځه مکالمه راونه وي او دوي دواړه د مدرسې د سبق نه علاوه په مذهبي اواسلامي تعليم خبرې اترې کوي نو نصوح زوے ته وائي چې دا زما غلطي ده چې تاته ما مذهبي تعليم نۀ دے درکړے ـ عليم پلار ته وائي چې يوه ورځ زۀ د سکول نه راتلم نو په لاره د يو پادري خبرو ته چې خلقو ته ئې وعظ کولو اودرېدم ـ دغه منظر په اصل متن کښې داسې دے ـ

اصل متن:

'' لڑکے ایک شیطان ہوتے ہیں۔ تھوڑی دیر تک تو کھڑے سنتے رہے۔ چلنے لگے تو ان میں سے ایک نے کہا: '' لولو ہے بے، لولو ہے۔ اس کی یہ بات سب لوگوں کو ناگوار ہوئی اور دو چار ادمیوں نے اس کو مارنے کے لیے تھپڑ بھی اُٹھائے۔ پادری صاحب نے روکا اور منع کیا[18]۔''

دلته مترجم ددغه پورتني عبارت ترجمه داسې کړې ده:

'' هلکان هم ډېر شيطانان وي ـ تر ډېره ولاړ وو ، خبرې ئې اورېدې خو چې را روان شو ترې نه ـ نو يو په کښې چغه کړه: ''الحمد کو زنې ، د مُلا انبسته نوړې ، په ځټ ځټ کښې ئې وهه چې مُلا تېره کړي نوړې '' يو کس پرې ځپېړه را اوچته کړه ـ وې چپ شه بې ادبه ، خو واعظ اووئيل چې فام: ګورې چې ئې اونه وهې[19] ـ ''

اوس دلته د ماشومانو هغه صوتي سندرې چې ماشومان ئې په خپلو لوبو او په خپل چم ګاونډ کښې د خپلو همزولو سره وائي ـ مترجم د خپل پښتني رنګ پېدا کولو دپاره په ترجمه کښې شامله کړې ده او د دهلي د معاشرې په ځاے ئې خپل کلتور وړاندې کړے دے ـ يقيناً چې دلته دا د موقعې او محل مناسبت سره ډېر خوند کوي او د ترجمې خوند دلته يو په دوه کوي ـ

يوه بله مکالمه چې کله نصوح د خپلې کور ودانې او بچو په فکر کښې ډوب شي ـ دغه وخت هغه د خپل مشر زوے کليم په حقله وائي ـ

"بڑا لڑکا تو پہلے ہی گویا ہاتھ سے جا چکا ہے۔[20] "

دلته مترجم ددې جملې ترجمه داسې کړې ده :

" لوی ټنډ خو مې لا پخوا د لاس نه وتلے دے[21]۔ "

دلته پکار وه چې مترجم د لوی ټنډ په ځاے مشر هلک (بڑا لڑکا) لفظ استعمال کړے وے خو مشر هلک نه مراد دلته کليم دے او کليم د نصوح مشر زوے دے چې د پلار حکم نه مني او نافرمانه دے۔ بې ادبي د خپل پلار کول د کليم عادت دے ځکه مترجم د ډېر حقارت په نظر د هغه دپاره د لوی ټنډ لفظ راوړے دے۔ هسې هم مونږه په پښتو کښې وايو چې د فلاني ټنډان زامن دي۔ دا د پښتو په روزمره او محاوره کښې مستعمل دے۔

مترجم ميا محمد يوسف د توبة النصوح په ترجمه کښې بامحاوره ترجمې سره سره ازاده ترجمه هم کړې ده لکه د مثال په توګه ئې د ترجمې دا نمونه :

اصل متن :- " ظاہر میں تو موت سب کو بُری معلوم ہوتی ہے اور اس سے لوگ ایسا ڈرتے ہیں جیسے مجرم سزا سے۔ لیکن غور کرکے دیکھو تو مرنا بھی ایک نعمت ہے[22]۔ "

مترجم دلته د ډېر وضاحت دپاره ازاده ترجمه کړې ده او اضافه پکښې په نظر راځي۔

ترجمه : " ظاهره خو مرګ هر چاته ګران دے او داسې ترې ويرېږي لکه غل د سزا نه ، منږک د پيشو نه ، تنزرے د باز نه ، چرګ د ګيدړ نه ، ولې که سړے پکښې فکر اوکړي نو اصل کښې دا مرګ هم ګورې لوی نعمت دے[23]۔ "

دلته مترجم تر څۀ ځايه خو لفظي ترجمه کړې ده خو څۀ الفاظ ئې دلته د ځان نه ورکړي دي لکه منږک د پيشو نه ، تنزرے د باز نه ، چرګ د ګيدړ نه۔

د ازادې او تخليقي ترجمې دا يو ښکلے مثال دے۔

د ترجمې په لحاظ سره که اوکتے شي نو د يوې ژبې په بله ژبه کښې لفظي ترجمه کول تولـه معنٰی بدلـه وي۔ په داسې صورت کښې د ژبې د روزمره او محاورې خيال ساتل پکار دي۔ لکه د نمونې په طور د توبة النصوح دغه عبارت کښې چې مترجم د پښتو روزمرې خيال ساتلے دے۔

اصل عبارت :- " اُنہی دنوں میں نصوح نے اپنی بیوی سے کہا کہ دو مہینے سے چاولوں کو ترس گئے۔ اب خدا نے اپنا فضل کیا۔ آج زردہ پکواؤ۔ مگر تاکید کرنا کہ چاول کھڑے نہ رہیں۔ شام کو زردہ پکا اور گھر کے چھوٹے بڑے سب نے کھایا اور حسب عادت سو رہے[24]۔ "

ترجمه : '' په دې شپو ورځو کښې نصوخ د کور مېرنې ته اوې چې د مودې راسې مې خوړو وریژو ته زړه کېږي ـ اوس د خدا ے په فضل خېر خېریت شو ـ نن خوړې وریژې پخې کړه ولې ګوره چې دم ئې ښه راولې ـ شپې ته ئې زرده پخه کړه ـ وړو لویو ټولو سره وخوړله او ښائسته اودهٔ شول[25] ـ ''

مونږ که دغه پورتنې عبارت ته اوګورو نو دلته مترجم لفظي ترجمه نه ده کړې بلکې د خپلې ژبې د روزمره او محاورې د خیال ساتلو په خاطر ئې په دې کښې رواني او تسلسل پېدا کړے دے ـ مترجم دلته د خپلې ژبې د روزمره او محاورې خیال ئې ساتلے دے ـ '' چاول کھڑے نہ رہیں۔'' ددې خو لفظي ترجمه بیا داسې راځي چې وریژې اونه درېږي ـ خو دلته مترجم د خپلې ژبې دپاره ډېر مناسب لفظونه راوړي دي چې ''دم ئې ښه راولې '' دلته د موقعې مناسبت سره دا غوره ترجمه ده ـ

کله چې نصوخ باندې د شپې بیماري راشي او ددهٔ د کور ټول بندیان اودهٔ وي ـ مترجم ددغه وخت منظر څهٔ په دې انداز سره ترجمه کړے دے ـ او د خپلې ژبې د روزمره او محاورې خیال ئې په کښې ساتلے دے ـ

اصل متن :- '' اس نے ننگے سر جلدی سے صحن میں نکل کر ٹہلنا شروع کیا۔ خوب کس کر دونوں بازو باندھے ۔ گلے میں توے کی سیاہی تھولی۔ عطر کا پھویا ناک میں رکھا۔ اور طبیعت کو دوسری طرف مصروف کیا مگر معلوم ہوتا تھا کہ حلق تک کوئی چیز بھری ہوئی ہے۔ بہتیرا ضبط کیا۔ بہتیرا ٹالا، آخر بڑے زور سے استفراغ ہوا۔ گھر والے سب جاگ اُٹھے۔ نصوح کو اس حالت میں بیٹھے ہوئے دیکھ کر سب کے کلیجے دھک رہ گئے[26]۔''

ترجمه :- '' زر ئې سر تور سر منډهٔ کړه او غولي کښې ایسته اخوا په ګرځېدو ولګېدو ـ دواړه متې ئې کلکې اوتړلې ـ په غاړه ئې د تبې تورکے پورې کړو ـ د عطرو پنبه ئې پوزې ته ونیوه او فکر ئې بل پله اړوو خو تر مرۍ مرۍ ډک وهٔ ـ هر څو که ئې ځان ټینګوو پوره نه شوه اخر په ډېر زور ئې قے اوکړو ـ کور والا ئې ټول راویښ شو[27] ـ''

مترجم ډېره په فني پېرایه کښې د اردو الفاظ او محاورې پښتو ته راوړي دي لکه '' گلے میں توے کی سیاہی تھولی'' یعني د تبخي تورکے ئې په غاړه پورې کړو ـ د تبخي تورکے په هغه وخت

کښې په کورانو ټوټکو کښې په دارو دُرملو کښې به يوه نسخه وه چې استعمال کښې به راتله۔ دا دلته په خپل ځائے ښه لګي۔ دغه شان يوه بله ټوټکه چې '' عطر کا پھویا ناک میں رکھا '' اوس مترجم ددې دپاره د پښتو ډېر مناسب الفاظ استعمال کړي دي چې ''د عطرو پنبه ئې پوزې ته ونيوه''۔ مطلب ''د عطرو پشم'' پوزې ته نيول چې خوشبو ترې راشي او دې څخه د بيمار زړه ښۀ شي۔

**د اشعارو ترجمې :**

مترجم په دې ناول کښې د اشعارو ترجمې هم کړې دي ۔دغه د اشعارو ترجمې منظومې دي۔ دلته د دغه اشعارو نه څو نمونې وړاندې کوم :

گرت چشم خدا بني به بخشند
نه بني هيچ کس عاجز تر از خويش[28]

د مترجم ترجمه :

خدائے کـه درکـړو درتـه يـو نظـر حـق بـين
اوبـه نـه وينـې د ځـان نـه زيـات مسـکين[29]

مترجم ميا محمد يوسف کاکاخېل د فارسۍ دغه شعر په ډېر ښۀ انداز سره ترجمه کړے دے او د شعر ټول فني لوازمات ئې په خپل ځائے برقرار ساتلي دي۔ بله دا چې په شعر کښې کوم پېغام لوستونکي ته ورکول دي ۔دغه هم برقرار دے ۔او هغه دا چې يعني که خدائے چرته داسې سترګه درکړي چې خدائے پرې ليدے شې نو د خپل ځان نه به بې بسه او محبوب بل څوک اونه وينې۔ ښکاري داسې چې مترجم په فارسۍ ژبه او ادب هم پوهه لري۔ ناول نګار ډپټي نذير احمد د مير تقي مير يو شعر ورکړے دے۔

زندگی ہے یا کوئی طوفان ہے
ہم تو اس جینے کے ہاتھوں مر چلے[30]

ميا محمد يوسف کاکاخېل د دې شعر ترجمه داسې کړې ده۔

مـوج وهـي طوفـان دے ژونـد د مـوج دپاسـه
وژنــي ژونــد مــو عجيبــه د خپلــه لاســه[31]

دغه شان د يو بل شعر ترجمه څۀ په دې انداز ده۔

فکر معاش ، ذکر خدا یاد رفتگاں

دو دن کی زندگی میں بھلا کوئی کیا کرے[32]

د مترجم ترجمه :

یاد د خدای ، بند د روزۍ ، د مړو ماتم شي
دې دوه ورځې ژوند کښې کوم کوم کار راسم شي[33]

مترجم په دغه شعر کښې د خیال او د لفظونو بندش په ډېره ښۀ طریقه کړے دے او د شعر مطلب د لوستونکي ذهن ته ښځ په ښځه رسي ۔ په یو موقع باندې چې کله ''کلیم'' (د ناول یو کردار) د ریاست عهده دار صدر اعظم سره د ملازمت دپاره ملاؤ شي نو هغه ترې تپوس اوکړي چې تا له څۀ کار درځي نو کلیم ورته په فخریه انداز سره اووائي چې زۀ یو د اعلیٰ پائې شاعر یم ۔ په جواب کښې ورته صدر اعظم اووائي چې ما سره خو د شاعر د خدماتو حاصلولو دپاره څۀ ځاے نشته ۔ په دغه موقع کلیم دا شعر اووائي :

گر سخن گو نہیں تو خاک نہیں
سلطنت ہے عروس بے زینت[34]

ددې شعر ترجمه مترجم داسې کړې ده :

دنیا ورانه گڼه تول‍ه
که د شعر نه ئې شا توله[35]

دلته مترجم ازاده ترجمه کړې ده او صرف د شعر مقصد ئې راوړے دے ۔

کلیم چې کله د صدر اعظم دربار ته لاړ شي نو هلته یو مذهبي ماحول وي ۔ او درس و تدریس روان وي ۔ کلیم ځان سره سوچ کوي چې زۀ خو د پلار د نصیحتونو نه پټېدم او ما وئیل چې چرته عېش و عشرت به اوکړم خو دلته خو د هغې نه سخت ماحول دے ۔ په دغه موقع کلیم دا شعر اووائي ۔

جاتے تھے جستجوئے بُت خانہ و صنم میں
بہکے تو جاکے نکلے ہم بھی کہاں حرم میں[36]

مترجم ددې شعر ترجمه داسې کړې ده ۔

ما وې ځم بُت خانې ته په خدمت کښې د صنم

نصـيب اوکـړې څـهٔ غـاړې ؟ ګـورئ راغلـم پـه حـرم[37]

دلته په دوېمه مصرعه کښې ''نصيب اوکړې څهٔ غاړې'' په ځاے ''نصيب اوکړې څهٔ چارې'' به مناسب وۀ ځکه چې د نصيب چارې وي۔ هسې هم مونږه وايو چې دا د نصيب چارې دي۔ دا او داسې نور ډېر اشعار په دې ناول کښې مترجم ځاے په ځاے ترجمه کړي دي۔

**د توبة النصوح ناول په ترجمه کښې د املا غلطۍ :**

اوسنۍ املا سره چې دا ترجمه اوکتے شي نو ډېر لوے فرق په کښې په نظر راځي ځکه چې دا ترجمه د نن نه ۱۱۸ کاله وړاندې شوې ده او د هغه وخت او موجوده املا کښې ډېر فرق دے۔ دا ترجمه په ۱۹۰۴ء کښې شوې ده۔ په دغه وخت کښې به دا يوه معياري ليک دود وۀ۔ مترجم په خپل وضاحت کښې هم دا خبره د املا په بابله واضحه کړې ده او ليکي :

'' د پښتو د ليک دپاره يو اسان ، صحيح طرز مقررول د ګڼو د صلاح مصلحت کار دے او يو کامل جدا تصنيف غواړي۔ په دې کتاب کښې اکثر هم هغه طرز اختيار شوے دے چې پښتو کښې مروج دے[38]۔''

خو بيا هم چې کله کتاب چاپ شوے دے نو مترجم د املا غلطو ته پخپله ګوته نيولې ده او ددې خبرې اعتراف ئې کړے دے۔ چې په کتاب کښې د کاتب نه ډېرې غلطۍ شوي دي۔ دا ئې هم ليکلي دي چې د کتاب کاتب پنجابے دے۔

'' ددې کتاب دا چاپ څنګه چې زړۀ غوښتۀ داسې ښۀ په صحت رانغے ځکه چې ليکونکے د کتاب پنجابے دے۔ پښتو نه ورځي او د کتاب ټول تحرير په مقرره هدايت لا نه ړو[39]۔''

په دغه ترجمه کښې هسې خو د املا ډېرې غلطۍ شته چې يو اوږد فهرست ترې جوړېږي خو دلته ترې زۀ د نمونې په طور يو څو رانقل کوم۔

- آواز : په ترجمه کښې دا لفظ د ''اواز'' مد سره ليکلے شوے دے خو ''مد'' په پښتو کښې نشته۔
- پښتنه : په ناول کښې د ''پوښتنه'' لفظ چې معنٰی ئې تپوس ده۔ دا معدوله واو سره ليکل پکار وو لکه ''پوښتنه''۔ خو په ترجمه کښې دا پښتنه ليکلے شوے دے او ''پښتنه'' د پښتون مؤنث دے۔
- زه : د ''ځه'' په ځاے ''زه'' ليکلے شوے دے۔
- دغه شانې په املا کښې ځاے په ځاے د ''زور'' (ـَــ) ، زېر (ـِــ) پېش (ـُـ) او ''مد''

(ــَــ) استعمال شوے دے۔

لکه د مثال په توګه:

''چه دَ خپلے صوبے لاټ ورته په دِے کتاب دَ سونو روپو انعام او خلعت ورکړَے دے[40]۔''

دغه شان د توبة النصوح د باب اول تمهيد چې ترې نو ليکي:

'' يو کال په ډِليِ کښې سخته وبا ګډه شوه۔ نصوح قے اُکړ۔ په مرګِ حال کښِ دَ قيامت دَ حساب کتاب فکر واغست۔ طبيب ورته دَ خوب دارو ورکړي وُ۔ چه اودَه شه هم دَ هغه پريشانخيال خوب ئے اُليد[41]۔''

دې نه علاوه ځينې نور لفظونه پکښې څۀ په دې ډول راوړې شوي دي لکه د مثال په توګه:

| غلط | صحيح |
|---|---|
| پښتل | پوښتل |
| ګلےِ مانړے | ګيلي مانړې |
| ګله من | ګيله مند |
| اُس | اوس |
| پما | په ما |
| تر اُسه | تر اوسه |
| اُښکے | اوښکې |
| نه مَنَه څه | نه منې څۀ |
| وقت | وخت |
| دَدِے | ددې |
| وُ | وو |
| هچرے | هچرې |
| صباح | صبا |
| طيار | تيار |
| نهار نهور | نهر نهور |
| وِلے | ولې |
| وظيفے | وظيفې |
| اُبے | اوبے |

دا او داسې نور ډېر لفظونه دي چې املائي غلطۍ پکښې شته دے ۔ددې وضاحت په رښا کښې که چرته دا ناول په دوېم ځل چاپ شي نو بايد چې د املا دغه غلطۍ ترې نه اووځي ځکه چې دا ناول په دې وجه هم يوه خپله ځانګړتيا لري چې کله هم مونږ د پښتو ناول په تاريخ رڼا اچوو نو خبره به هم ددې ځايه شروع کېږي۔

## حوالې

[1] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوح، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، مجلس ترقی ادب لاہور، مئی 1964ء، ص 15
[2] هم دغه اثر ، مخ ۱۵
[3] مریم ، بي بي ، د پښتو د نثر تاریخي او تنقیدي جائزه ، تاج کتب خانه محله جنګي قصه خوانی پېښور ، ۱۹۸۲ء ، مخ ۳۳۲
[4] هم دغه اثر ، مخ ۳۳۲
[5] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، نیو پرېس راولپنډي ، ۱۹۰۴ء ، مخ ۴۳۹
[6] هم دغه اثر ، مخ ۱۰
[7] هم دغه اثر ، مخ ۱۲
[8] حنیف خلیل ، پروفېسر ، ډاکټر ، پښتو ادب او ترجمه نګاري ، ادب محل ستې تاور کابلي بازار پېښور ، مارچ ۲۰۲۲ء ، مخ ۲۲
[9] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۱
[10] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 3
[11] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۳۲
[12] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 315
[13] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۳۸۹
[14] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 318
[15] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۳۹۳
[16] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 313
[17] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۳۸۲
[18] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 131
[19] نذیر احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، میا محمد یوسف کاکاخېل ، مخ ۱۵۲
[20] نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃ النصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص 20

[21]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۱۳
[22]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص22
[23]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۱۲
[24]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص17
[25]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۷
[26]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص17
[27]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۸
[28]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص3
[29]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۳۲
[30]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص4
[31]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۳۴
[32]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص4
[33]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۳۴
[34]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص321
[35]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۳۹۲
[36]نذیر احمد، ڈپٹی، توبۃالنصوخ، مقدمہ افتخار احمد صدیقی، ص314
[37]نذير احمد ، ډپټي ، توبة النصوخ ، مترجم ، ميا محمد يوسف کاکاخېل ، مخ ۳۸۸
[38]هم دغه اثر ، مخ ۱
[39]هم دغه اثر ، ضميمه ۱
[40]هم دغه اثر ، مخ ۱۱
[41]هم دغه اثر ، مخ ۱


References

1. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, Majlas taraqi abad Lahore, May 1964, P:15
2. Ibid, P: 15
3. Maryam, Bibi, Da Pakhto da nasar tsrikhi aw tanqidi jaiza, Taj kutab khana mahla jangi Qisa khwani Pekhawar, 1986, P: 336
4. Ibid, P:336

5. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, new press Rawalpindi, 1904, P: 439
6. Ibid, P: 10
7. Ibid, P: 12
8. Prof Hanif Khalil, Dr, Pakhto adab aw turmjuma negari, Adab mahal sity Tower kabli bazaar Pekhawar, 2022, P:22
9. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 1
10. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 3
11. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 32
12. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 315
13. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 379
14. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 393
15. P: 318
16. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 393
17. , Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 386
18. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi P: 131
19. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 152
20. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 20
21. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 13
22. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 22
23. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 16
24. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 17

25. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 7
26. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 17
27. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 8
28. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 3
29. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 32
30. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 4
31. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 34
32. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 4
33. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 34
34. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 321
35. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 396
36. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Muqadma: Iftekhar Ahamd Sadiqi, P: 314
37. Nazir Ahamad, Deputy, Tawba tu Nasukh, Mutarjam: Mian Muhammad Yousaf Kaka khel, P: 388
38. Ibid, P: 1
39. Ibid, zamima, P: 1
40. Ibid, P: 11
41. Ibid, P: 1